# زما ټول امتيان به جنت ته داخليږي مګر هغه څوک چې انکار وکړي

له ابو هريره رضي الله عنه څخه روايت دی چې رسول الله صلی الله عليه وسلم فرمايلي دي: "زما ټول امتيان به جنت ته داخليږي مګر هغه څوک چې انکار وکړي " هغوی ووېل: اې د الله رسوله! هغه څوک دی چې انکار به کوي؟ وېې فرماييل: چا چې زما اطاعت وکړ هغه به جنت ته داخل شي او چا چې زما نافرماني وکړه نو بېشکه چې هغه انکار کړی دی».

[صحيح دی] [بخاري روايت کړی دی]

رسول الله صلی الله عليه وسلم خبر ورکوي چې ټول امت به يې جنت ته ننوځي پرته له هغه چا چې ډډه (ترې) وکړي! نو صحابه و - رضي الله عنهم - وفرمايل: او څوک دی چې ( جنت ته له ننوتلو څخه به ) ډډه کوي اې د الله رسوله؟! نو هغه صلی الله عليه وسلم ځواب ورکړ چې: چا چې غاړه کېښوده، پيروي يې وکړه او د رسول الله صلی الله عليه وسلم اطاعت يې وکړ جنت ته به داخل شي، او هغه چا چې سرغړونه وکړه او شريعت ته يې غاړه کې نښوده، نو هغه په خپلو بدو کړنو سره جنت ته له ننوتلو څخه ډډه کړې ده.

https://www.sunnah.global/hadeeth/ps/show/4947

النجاة الخيرية
ALNAJAT CHARITY
لجنة الدعوة الإلكترونية
EDC
E-Da'wah Committee